سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۹ / ۰۹ / ۰۴

# د ۱۹۹۲ کال د سيناريو د تکرار مخنيوی

په دې ورځو کې د ۹۰ لسيزې پشان، لوی خطر یو ځل بیا هېواد ګواښي. دا خطر هم د ۹۰ لسيزې د خطر پشان موجوده حکومت، ملي حاکميت، نظام، د هېواد هويت او بقا ته متوجه دی او هم هغه لاسته راوړنو او برياوو ته په نښه دی چې په تېرو ۱۸ کلونو کې د افغانانو په زيار او متو او د نړيوالو په مرستو ترلاسه شوي دي.
راتلونکې څو اونۍ له څو اړخونو ټاکونکی ارزښت لري:
ـ يوخوا افغان حکومت او افغانان ټاکنو ته تياری نيسي
ـ بلخوا امريکا غواړي طالبانو سره د سولې هوکړه وروستۍ کړي او په دې اړه د افغان حکومت انديښني بابيزه وګڼي او هم د ټاکنو په درشل کې په داسي مسايلو افغان حکومت بوخت وساتي
ـ همدارنګه طالبان هڅه کوي د ټولټاکنو د سبوتاژ او په سوله کې د زياتو امتيازاتو د ترلاسه کولو لپاره جګړې ته زور ورکړی
ـ او د انتخابي حکومت پر ځای د موقت حکومت بولاله
په داسي مهال چې افغان حکومت ټاکنو ته تياري نيسي او تمه ده، د موجوده دوه سري حکومت پرځای به يو سری او منتخب حکومت رامنځته شي چې زرځلي له موجوده حکومته د جګړې پای او د سولې چاره ښه مديريت کولای شي؛ بيا داسي تنګ او لنډ وخت کې طالبانو سره د سولې په نوم د هوکړې رادمخه کول، فکر نه کيږي چې د ريښتني او تلپاتي سولې په موخه وي!
د ټاکنو په درشل کې د موقت حکومت ګنګوسي چې د ترلو دروازو ترشا دوحه کې طالبانو سره د امريکايي پلاوي په خبرو کې رسنيو ته څخيږي او په کور دننه او بهر ټاکلي کړی يې هم په مد اوشد تکراروي، د خطر زنګونه لا کرنګوي!
په يو روسي خبرتون کې هم لولو« به گزارش اسپوتنيک، ضمير کابلوف، نماينده ويژه ولاديمير پوتين، رئيس جمهور روسيه در امور افغانستان و مدير ديپارتمنت دوم آسيايی وزارت امور خارجه روسيه روز سه شنبه (3 سپتامبر) در جمع خبرنگاران در مسکو گفت، کشورش از توافق احتمالی در مورد تعويق انتخابات و تشکيل حکومت موقت ميان ايالات متحده امريکا و گروه طالبان در افغانستان حمايت خواهد نمود.
کابلوف گفت، شايعات و اشاره های جدی در مورد عدم برگزاری انتخابات به طور کنونی و ايجاد حکومت در افغانستان موجود است و اکنون صحبت ها دراين خصوص ادامه دارد.
وی همزمان خاطر نشان ساخت که در شرايط کنونی، نبايد روی اين مسأله تمرکز کرد که چه کسانی از عدم برگزاری انتخابات و ايجاد دولت موقت حمايت می کند و چه کسانی برعکس.»
خو د ضمير کابلوف د ځرګندونو برعکس، افغانان ټول له ټولټاکنو ملاتړ کوي او د ماسکو په ګډون په نورو پلازمېنو کې د افغانستان لپاره د موقت حکومتونو وخت تېر ګڼي او هغه د خپلواک افغانستان په کورنيو چارو کې لاسوهنه بولي.
ماسکو بايد د افغانستان په اړه د خپلو تېرو تېروتنو، لاسوهنو او ماتو زده کړه وکړي او افغان ملت څخه بخښنه وغواړي.
په کور دننه هم ټاکلي کړی چي ماسکو، اسلام اباد او ځينو نورو پلازمېنو سره تړلي او په انديښنو او موخو کې طالبانو سره شريک او د ديموکراسی او مدنيت سره دښمني پالي هم د موقت حکومت لپاره د ماسکو داسي پرپاګيندې ته غومبر وهي.
خو بلخوا په د اسي حال کې چې د افغانستان د سولې لپاره د امريکا ځانګړي استازي زلمي خليلزاد له طالبانو سره د سولې معامله وروستي پړاو ته رسولی«د متحدو ايالتونو د بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو وايي، خطر په غاړه نه اخلي او حاضر نه دی چې دا موافقه لاسليک کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ټایم مجلې د چهارشنبې په ورځ (سپټمبر ۴) ناوخته د جګپوړو امریکایي، افغان او اروپايي چارواکو په قول وویل چې پامپیو حاضر نه دی چې دا موافقه لاسلیک کړي.تاند»
تاند خبرغځوي او لیکي«تر دې وړاندې د امریکا د ملي امنیت د سلاکار په ګډون یو شمېر نورو جګپوړو امریکایي چارواکو هم د طالبانو او زلمي خلیلزاد له موافقې سره مخالفت کړی وو.
همداراز د جیمز کننګهم په شمول په افغانستان کې د امریکا نهو پخوانیو سفیرانو له دې موافقې سره مخالفت ښکاره کړی او ویلي یې دي چې د سولې د یوې بیړنۍ هوکړې په نتیجه کې به افغانستان په یوه بله خونړۍ کورنۍ جګړه کې ښکېل شي.
دغو نهو امریکایي پخوانیو ډیپلوماټانو جیمز ډابینز، رابرټ فین، رونالډ نیومان، ویلیم ووډ، جان نیګروپونټ، اېرل انتوني واین، راین کراکر، جیمز کننګهم او هوګو لورینس یوه ګډه اعلامیه کې چې اتلانتیک شورا هم خپره کړې ده ویلي، طالبانو سره د سولې یوه بیړنۍ هوکړه به دېرې بدې پایلې ولري.
ټایم وایي، ټاکل شوې وه چې د امریکا دفاع وزیر مارک ایسپر د سپټمبر په درېیمه (سې شنبه) له ولسمشر ټرمپ سره د دې موافقې په اړه کتلې وای. د ټرمپ د موافقې په صورت کې له افغانستانه د ۵۴۰۰ امریکایي پوځیانو د وتل کار پیلېږي.
خو هغوی چې د موافقې په اړه معلومات لري ټایم ته ویلي چې دا موافقه د ګڼو حساسو او مهمو مسایلو ډاډ نه شي ورکولی.»
هندوستان هم څو ورځې مخکې د افغان حکومت له دریځه خپل غوځ ملاتړ بیا ښکاره کړ« نشریه " تایمز او ایندیا" روز سه شنبه نوشت: ویجی گوخال معاون وزیر امور خارجه هند نگران شرایط پس از این توافق است. دهلی نو از سیستمی که بر مبنای قانون اساسی باشد حمایت خواهد کرد. این سیستم باید ثبات را تضمین کند و فضایی برای فعالیت گروه های تروریستی و سازمان های وابسته به آنها باقی نگذارد. **هند مخالف به تعویق افتادن انتخابات ریاست جمهوری افغانستان است.»**
افغانان د ولسمشرۍ مانۍ دا اندېښنه پرځای بولي چې وایي« حکومت د سولې د بهیر ملاتړ کوي خو د امریکا او طالبانو ترمنځ د کېدونکې هوکړې د پایلې په اړه اندېښمن دی. افغان حکومت د سولې بهیر کې د هر هغه پرمختګ ملاتړ کوي، چې د تلپاتې سولې پایله او د جګړې په ختمېدو تمام شي. د امریکا او طالبانو ترمنځ د هوکړې په اړه د افغان حکومت اصلي اندېښنه دا ده چې تر هوکړې وروسته د ممکنه رامنځ ته کېدونکو خطرونو مخه څنګه ونیول شي؟»
په کور دننه او بهر د ټولټاکنو د ملاتړ بهیر ورځ تربلې زیاتیږي او هغه کړی چې په بهرنیو پلازمېنو کې د افغانستان لپاره موقت حکومتونه جوړوي، د شرمېدونکې ماتې سره مخامخیږي. بلخوا افغانان ریښتینې سوله غواړي، هغه سوله چې د بلې خونړۍ او تباکوونکې جګړې پیل وي نه غواړي او پر وړاندې یې کلک دریږي!
پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ